مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د جون لومړی | ۵۴۲مه ګڼه
2 017550 139621

# د سولې د هڅو پر چټکتیا ټینګار؛

## سناتوران وايي، ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرې پیل شي



۳

**کرونا؛ ناورین او لار ورکې حکومت**
۲ مخ

**شیوع ویروس کرونا چې پیامدی برای اقتصاد آشفته‌ی افغانستان دارد؟**
۲ مخ

**د افغان کډوالو د ډوبېدو پېښه او پر ایران- افغان اړیکو یې اغېزې**
۳ مخ

## ولایت

۴ مخ

### د کابل ولایت پېژندنه

د کابل لـه هسکو ټیټو ډک سیاسي تاریخ د نړۍ ډېری پوهان حیران کړي؛ ځکه چې دغه ولایت تل د جګړو او تصادفاتو ډګر و او لـه ویاړه ډک تاریخ یې هېڅ وخت د هېرېدو نه دی.



### د نږدې ۸۰ میلیونو افغانیو په لګښت د ننګرهار هوایي ډګر د جوړونې د لومړۍ برخې تړون لاسلیک شو



د ننګرهار د هوایي ډګر جوړولو د تړون لومړۍ برخه، د احاطې دېوال، فینس او امنیت برجونو جوړولو په ګډون د ۷۹.۹ میلیونو افغانیو په لګښت له افغان ګلوبل اپرېشن شرکت سره لاسلیک شو. د ملکي هوایي چلند ادارې عمومي رییس ډاکټر محمد قاسم وفایي زاده په کابل کې د دغه تړون د لاسلیک پرمهال وویل چې د ننګرهار هوایي ډګر په کابل کې د اضطراري حالت او خرابې هوا او همدا راز د هېواد له ختیځو ولایتونو سره د ارتباط لپاره د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د بدیل په توګه مهم دی. هغه زیاته کړې چې د دې پروژې بشپړېدل به د سیمې او نړۍ بازارونو ته د هېواد د ختیځو ولایتونو د کرنیزو محصولاتو صادراتو ته لاره هواره کړي. د ننګرهار د هوایي ډګر د جوړونې د پروژې د دویمې برخې ډیزاین، په ګډون د مسافرینو ترمینل، اور وژنې او هوا پېژندنې تعمیر، رنوې خط، ټکسیوې او رمپ په ګډون کار بشپړ شوی او داوطلبي به یې ژر پیل شي.

### معترضین: په میدان وردګو کې د ملي اردو له خوا اوو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

په میدان وردګو ولایت کې د ملي اردو له لوري توغول شوي هاوان دری ملکي کسان وژلي او څلور نور ټپیان دي. د دغه ولایت اوسېدونکو د اعتراض په ډول د وژل شویو ماشومانو جنازې د ولایت مقام مخې ته راوړې وې او د عدالت غوښتنه یې کوله. ځایي خلک وايي، پرون سهار د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې د ملي اردو اړوند له یوې پوستې څخه په یوه کلي د هاوان مرمۍ توغول شوې چې له امله یې دغه مرګ ژوبله رامنځته شوې ده. د سیمې اوسېدونکو د اعتراض په ډول دکابل کندهار لویه لاره هم د څو ساعتونو لپاره تړلې وه.

دا لومړی ځل نه دی چې په دغه ولایت د جګړې د ښکېلو خواوو په بریدونو کې ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي، بلکې تر دې وړاندې هم په ورته پېښو کې ګڼ ملکي وګړي وژل شوي چې د خلک تونډ غبرګونونه یې راپارولي دي. دوی د جګړې له ښکلېو خواوو غوښتي چې د ښتو پرمهال دې د دوی د ژوند خوندیتوب ته جدي پام وکړي. په ورته وخت کې د میدان وردګو ولایت له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې امنیتي ځواکونه تېره ورځ په چغره سیمه کې د ماین پر ښندولو بوخت وو چې وسله والو مخالفینو پرې برید وکړ. سرچینې ویلي، وروسته د جګړې پر مهال د درنې وسلې مرمۍ پر یوه کور لګېدلې چې پکې درې ماشومان وژل شوي دي.

د خبرپاڼې له مخې، د میدان وردګو والي مظفرالدین یمین ویلي چې که دغه پېښه د امنیتي ځواکونو د غفلت له امله رامنځته شوې وي، عاملینو ته به یې جزا ورکړل شي.

### تمه لرو چې د طالب زندانیانو په ازادېدو سره به تاوتریخوالی کم شي



۵ مخ

### وزارت مالیه: شورای ملی هر چه زودتر بودجه مبارزه با ویروس کرونا را تصویب کند



وزارت مالیه افغانستان از شورای ملی می‌خواهد که هر چه زودتر بودجه مبارزه با ویروس کرونا را تصویب کند.

شمروز خان مسجدی سخنگوی این وزارت دیروز به رادیو آزادی گفت، وزارت مالیه در ۱۵ ثور سند بودجه را به ولسی جرگه سپرده‌است اما با گذشت نزدیک به یک ماه هنوز تصویب نشده‌است و سرنوشت آن معلوم نیست.

آقای مسجدی می‌گوید، در بودجه عادی به هدف مبارزه با ویروس کرونا نزدیک به ۱۰ میلیارد و ۱٦۹ میلیون افغانی تعدیل آمده‌است و باید ولسی جرگه پس از ارزیابی آنرا تصویب کند.

این در حالیست که بودیجه سال ۱۳۹۹؛ ۴ صد و ۲۸ میلیارد افغانی است که از این میان ۲۸۹ میلیارد آن عادی و ۱۳۹ میلیارد آن بودیجه انکشافی می‌باشد. اما ولسی جرگه می‌گوید که این بودجه توازن ندارد.

در عین حال حکومت افغانستان قبل از این اعلام نموده بود که بخاطری مبارزه با ویروس کرونا پول های را که به پروژه های انکشافی اختصاص یافته بود در این راه به مصرف میرساند. اما این اقدام حکومت با واکنش ها و انتقاد جدی شواری ملی روبرو شده است.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

# کرونا؛ ناورین او لار ورکی حکومت

کرونا یوازې په افغانستان کې نه، بلکې په ټوله نړۍ کې یو ستر بشري ناورین رامنځته کړی دی. په هېواد کې د کرونا ویروس د پراختیا په اوج کې د دغه ویروس پر وړاندې د مبارزې په تر ټولو مهمه اداره (د عامې روغتیا وزارت) کې پراخ بدلونونه راغلي دي. په لومړي سر کې یې څو مرستیالان بدل شول او اوس تازه د دغه وزارت لپاره نوی سرپرست گومارل شوی دی. کرونا ټوله نړۍ له گواښ سره مخ کړې، خو زموږ او نړیوالو ترمنځ د دې نړیوالې بلا پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ستر تفاوت دی.

کرونا د خلکو ژوند له گواښ سره مخ کړی، دولتي اداري ټړل شوې، نړیوال له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دي، خو په افغانستان کې له دې پدیدې له یوې خوا سیاسي استفاده کېږي او له بلې خوا د ځینو مفسدینو لپاره هغه د عوامو په خبره، په لنگه غوا بدله شوې ده. د عامې روغتیا وزارت په دې برخه کې ستر مسوولیتونه لري. نه یوازې دا چې د دې پدیدې پر وړاندې د مبارزې لپاره د مالي امکاناتو سم مدیریت باید وکړي، بلکې خپل ظرفیت باید پیاوړی کړي او په کار پوه کسانو ته دا چانس برابر کړي چې د دغه پدیدې پر وړاندې موثر اقدام وکړي.

همدا تېره ورځ په مشرانو جرگه کې سناتورانو شکایت کاوه چې له کرونا سره د مبارزې په برخه کې په ځانگړو شوو پیسو او همدا راز شویو مرستو کې فساد موجود دی. د دغه فساد مسوول څوک دي؟ څوک باید په داسې یوه بحراني وضعیت کې د افغانانو له حقوقو دفاع وکړي؟ دا هر څه د عامې روغتیا وزارت مسوولیت دی.

د وروستیو شمېرو له مخې په هېواد کې د کرونا مثبتو پېښو شمېر تر ۱۵ زره اوښتی دی. عامې روغتیا وزارت تر دې دمه په رسنیو او مطبوعاتو کې یوازې د ارقامو په وړاندې کولو بسنه کوي. داسې اغېزمنه لار یې نه ده خپله کړې چې له مخې یې د دغه ویروس د پراختیا مخه ونیول شي. پرون هم د عامې روغتیا وزارت مرستیال وحید الله مجروح اندېښنه وښوده چې دغه ویروس لا هم د پراختیا په حال کې دی.

اوس د عامې روغتیا وزارت مسوولیت دی چې نوې رهبري یې د دغه ویروس پر وړاندې د مبارزې لپاره اړین اقدامات وکړي. یوازې په خبري کنفرانسونو دې اکتفا نه کوي. له نورو اړوندو حکومتي ارگانونو سره دې په گډه د نړۍ تجربو ته په کتو، داسې یوه حللاره وړاندې کړي چې وکړی شي رامنځته شوی ناورین کنټرول او مدیریت کړي. که وضعیت همداسې روان وي، د حکومتي ادارو ترمنځ همغږي نه وي، یوازې د څو ډوډیو په وېش اکتفا وشي، بازار هم ترلی وي، خو بیا هم کرونا د پراختیا په حال کې وي، دا هر څه یو بل د خطر زنگ دی چې مسوولین باید ورته متوجه وي.

له کرونا سره د مبارزې په برخه کې د حکومت اوسنی لار ورکی حالت د جدي اندېښنې وړ دی او چارواکو ته په کار ده چې ژر تر ژره دې د ناورین د مخنیوي او راتلونکو خطرونو د ختمولو لپاره عملي لارې چارې وکاروي او یا له نورو هېوادونو د مرستې او همکارۍ غوښتنه وکړي.

# شیوع ویروس کرونا چی پیامدی برای اقتصاد آشفته‌ی افغانستان دارد؟

نوشته: شعیب احمد رحیم / مترجم: م. صابر صدیقی

حتا پیش از آن‌که کروناویروس جهان را گروگان بگیرد، گزارش چشم‌انداز اقتصاد جهانی ۲۰۱۹ صندوق بین‌المللی پول (IMF) قبلاً نگرانی‌هایی را مطرح و تخمین کرده بود که به دلیل کاهش رشد اقتصادی در مناطق مختلف، چشم‌انداز اقتصادی منفی خواهد بود. دلایل عمده آن مواردی چون جنگ تجارتی میان ایالات متحده و چین و برگزیت بود. در یک گزارش بانک جهانی آمده است که فقر در کشورهای شکننده یا درگیر جنگ تشدید خواهد شد و این کشورها بی‌نهایت متاثر خواهند شد، اگر اقدامات جدی روی دست گرفته نشود؛ چون دو سوم فقرای جهانی در این کشورها زنده‌گی می‌کنند. این ماجرا قبل از شیوع کووید-۱۹ بود که جهان را به حالت سکته اقتصادی روبه‌رو ساخت. همه‌گیری مرض کووید-۱۹ مطمیناً چشم‌انداز اقتصادی جهان را بدتر می‌کند و بهبود وضعیت ممکن است سال‌ها برای اقتصادهای بزرگ طول بکشد. افغانستان که در شاخص‌های درگیری منازعات به شدت در بالاترین مرتبه بین کشورهای شکننده قرار دارد، از این قاعده مستثنا نیست و تحولات خوبی را به همراه نخواهد داشت.

اقتصاد افغانستان در گزارش‌های اقتصادی جهانی مورد توجه زیادی قرار نمی‌گیرد، به این دلیل که از نظر اندازه کوچک‌تر و با اقتصاد جهانی یک‌پارچه‌تر نیست. در جریان بحران مالی جهانی۲۰۰۷ – ۲۰۰۸، اقتصاد افغانستان تقریباً تحت تأثیر قرار نگرفت، زیرا عمدتاً به کمک‌های بین‌الملل بسته‌گی داشت. حتا نوسانات و شوک‌های موجود در بازار جهانی نفت نیز مانند سایر نقاط جهان تأثیر چشم‌گیری بر کشور نمی‌گذارد. با این حال، بحثکووید-۱۹ متفاوت است و هم‌چو گلوله برفی از برف‌کوچ برای ضربه زدن به اقتصاد شکننده و متاثر از جنگ خطرناک‌تر اثبات شده می‌تواند.

یک تحلیل عادی از اقتصاد افغانستان از سال ۲۰۱۴ به عنوان نقطه مرجع آغاز می‌شود. قبل از سال۲۰۱۴ ، کمک‌ها به کشور سرازیر می‌شد و اقتصاد پس از سال‌ها وضعیت بد، رشد یک رقمی سعودی را تجربه می‌کرد. پس از سال ۲۰۱۴ ، اقتصاد به دلیل کاهش بی‌حد کمک‌ها، تجدید روند در خشونت‌های داخلی و بی‌ثباتی سیاسی ناشی از انتخابات ریاست جمهوری که منجر به تشکیل دولت وحدت ملی شد، متزلزل شد. اقتصاد موفق شد در سال ۲۰۱۹ در مقابل نرخ ۵ درصدی اهداف بلندپروازانه دولت با نرخ ناچیز ۲.۹ درصد رشد کند. این رشد در واقع وضعیت رکود در رشد بود؛ وضعیتی که اقتصاد در آن رشد می‌کند، اما با سرعت کندتر که باعث بی‌کاری مانند رکود واقعی اقتصادی، و منجر به کاهش مصرف عامه و کاهش سرمایه‌گذاری‌ها می‌شود.

کووید-۱۹ دقیقاً من‌حیث یکی از رویدادهای مهم با پتانسیل تغییر وضعیت اقتصادی، به افغانستان رسید. اولین مورد مهم «توافق‌نامه صلح در افغانستان» بین ایالات متحده و طالبان بود که در ۲۹ فبروری امضا شد. گزارش اخیر بانک جهانی وضعیت امنیتی در این کشور را به عنوان یکی از محدودیت‌های مهم برای سرمایه‌گذاری نشان می‌دهد. به همین ترتیب، صلح می‌تواند راه را برای بهبود اقتصادی رو به زوال افغانستان هموار کند. دومین رویداد، کنفرانس تعهد در مورد افغانستان است که قرار است تا اواخر سال ۲۰۲۰ برگزار شود، زیرا سال جاری چهارمین و آخرین سال کمک‌های وعده شده در کنفرانس بروکسل در مورد افغانستان که در سال ۲۰۱٦ برگزار شده بود، است. این کنفرانس به افغانستان کمک می کند تا تعهدات بین‌المللی را برای بازسازی افغانستان برای چهار سال آینده جلب کند. متأسفانه، شیوع کووید-۱۹ توجه را از هردو رویداد مهم کنار گذاشته و باعث شکل‌گیری بی‌اطمینانی در مورد آینده اقتصاد افغانستان می‌شود.

شیوع این بیماری، شاخص‌های اقتصادی از قبل در حال بحران را بحرانی‌تر ساخته است. به عنوان یک کشور وابسته به واردات، واردات سالانه افغانستان بسیار بالاتر از ۷ میلیارد دالر باقی مانده است، در حالی که صادرات نزدیک به یک میلیارد دالر رسیده است. اگرچه عدم توازن بین صادرات و واردات بر رشد اقتصادی تأثیر منفی می‌گذارد، اما منبع اصلی درآمد برای دولت است. سال گذشته، درآمد گمرکات حدود ۴۰ درصد درآمد سالانه افغانستان بوده است. با مقایسه درآمدهای ماهانه گمرک، درآمد ماه فبروری ۲۰۲۰ هفده درصد کم‌تر از ماه فبروری سال گذشته بوده است. این موضوع کاهش درآمد گمرکی تأثیر اولیه کووید-۱۹ را بر اقتصاد افغانستان نشان می‌دهد، پس از آن‌که چین مجبور شد ووهان را قرنطین کند. با افزایش همه‌گیری کووید-۱۹ در ماه مارچ ۲۰۲۰ در خارج از چین، تأثیرات شدید، اقتصاد افغانستان را تحت فشار قرار داد. درآمد گمرک ماهانه ماه مارچ با کاهش حدود ۹۰ درصد مواجه شده است.

رکود تجارت مشکلاتی را برای صنایع داخلی نیز در پی دارد. بخش قابل توجهی از عوامل تولید و مواد خام برای بخش‌های تولیدی، ساخت‌وساز و خدمات داخلی توسط سکتور خصوصی تازه به پا ایستاده شده وارد می‌شود. این سکتورها بعد از گمرک، مهم‌ترین عامل درآمد دولت هستند. شوکه‌های عرضه همراه با تعرفه باعث می‌شود ٦۰ درصد از عواید سالانه دولت کاهش یابد. این ضربه در سکتور خصوصی باعث بی‌کاری (که در حال حاضر بالاتر از ۴۰ درصد و حتا بالاتر از آن است) شده و مصرف عمومی را کاهش داده، اقتصاد را به چرخه شریر و وحشتناک بحران سوق می‌دهد.

از افغانستان به عنوان یک کشور زراعتی یاد می‌شود، زیرا سکتور زراعت، در حالی که حدود ۳۰ درصد به تولید ناخالص داخلی کمک می‌کند، تقریباً ۷۰ درصد از مردم، اکثراً در مناطق روستانشین را صاحب شغل کرده است. بی‌کاری که منجر به کاهش مصرف عمومی شود، به تقاضای محلی برای میوه‌های تازه و خشک آسیب می‌رساند. کاهش بازده محصولات زراعتی هم‌چنین از طریق اثر دومینو، سایر شاخص‌های اقتصادی را کاهش می‌دهد.

اوضاع جاری اقتصادی نشان می‌دهد که رکود واقعی در گوشه و کنار یعنی در نزدیک ما است. پاسخ ساده برای وضعیت جاری محرک مالی است، که براساس آن دولت هزینه‌ها را افزایش داده و مالیات و نرخ سود را با هدف کلی کاهش فشار تقاضای کل، کاهش می‌دهد. ایالات متحده بسته محرک ۲ تریلیون دالری را اعلام کرد که شامل پرداخت مستقیم، بیمه بی‌کاری، قرضه‌ها و کمک است. یک رویکرد مشابه توسط هند و اقتصادهای دیگر اتخاذ شده است.

داستان افغانستان متفاوت است. چنین بسته‌های محرک به منابع مالی و مؤسسات قوی مالی نیاز دارند؛ عواملی که افغانستان فاقد آن‌ها است. دولت توانسته است حدود ۵۰ درصد از کل هزینه‌های خود را اداره کند، در حالی که باقی‌مانده آن توسط کمک‌کننده‌گان تأمین می‌شود. جریان‌های موجود عواید افغانستان در سال جاری کاهش می‌یابد، که توانایی دولت را در برآورده ساختن مخارج آن محدود می‌سازد. متأسفانه نهادهای کلیدی اقتصادی – از جمله وزارت‌خانه‌های مالیه، اقتصاد، صنعت و تجارت و هم‌چنین د افغانستان بانک (بانک مرکزی) – اکثراً در دوره اول ریاست جمهوری اشرف غنی توسط سرپرستان اداره می‌شدند. هنوز هم این وضعیت ادامه دارد و نهاد مهم مالی کشور، وزارت مالیه، قرار بود یک ماه پیش از طریق فرمان ریاست جمهوری به سه نهاد مستقل تقسیم شود. با این حال، بر اساس اخبار اخیر، این تصمیم اکنون مورد بررسی قرار گرفته و شایعاتی مبنی بر عقب‌گردی آن منجر به شک و عدم اطمینان در مورد ساختار مؤسسات مالی افغانستان می‌شود.

در این زمینه، دولت گزینه‌های مختلفی دارد که می‌تواند برای به حداقل رساندن عاقبت‌های ناگوار اقتصادی کووید-۱۹ در نظر بگیرد. به عنوان یک اقتصاد متکی بر کمک‌های کشورهای امدادرسان، کشور باید به کمک شرکای بین‌المللی و نهادهای توسعه وابسته باشد. برای پیش‌برد فعالیت اقتصادی از طریق پروژه‌های توسعه در سراسر کشور، بودجه اقتصاد افغانستان به بودجه انکشافی بیش‌تری نیازمند است. بخش‌های زیربنایی، صحت و آموزشی می‌توانند کاندیداهای بالقوه برای هزینه کردن باشند، به ویژه در مناطق روستایی. در بخش زراعت، برای مقابله با عدم اطمینان ناشی از صادرات محصولات کشاورزی، به ویژه میوه‌های تازه، خریداری‌های دولتی با قیمت‌های مناسب می‌تواند ضررها را به حداقل برساند. سکتور خصوصی، به ویژه صنایع آسیب‌دیده، به تسویه حساب مالیاتی احتیاج دارند. دولت هم‌چنین می‌تواند با هزینه‌های سبسایدی شده خدماتی مانند برق را ارایه دهد. بدون شک هردو اقدام، بار مالی برای دولت که باید منابع مالی برای آن ترتیب و در نظر گرفته شود را افزایش می‌دهد. در این میان هم‌چنان، دولت می‌تواند برای برخی از صنایع اجازه دهد تولید را با اقدامات دقیق کنترل شده آغاز کنند.

به غیر از گزینه‌های پالیسی فوق، دو راه بالقوه دیگر نیز وجود دارد که می‌تواند پرتوی امید و اطمینان را برای مبارزه با بحران در میان مردم و جامعه صنعتی-اقتصادی کشور ایجاد کند:

اول، پیش‌رفت چشم‌گیر در مذاکرات صلح بین دولت افغانستان و طالبان.

دوم، حل‌وفصل اختلافات

این امر باعث می‌شود که جمع‌آوری کمک‌های مالی زمانی که کمک‌کننده‌های عمده در حال مبارزه با ضررهای انسانی و اقتصادی کشورهای خود از این بیماری هستند را آسان‌تر کند. از طرف دیگر، این امر یک محیط تشویق‌کننده برای سرمایه‌گذاری سکتور خصوصی و هم‌چنین فضای احساسات مثبت عمومی در شرایط بحرانی در کشور را ایجاد خواهد کرد.

در حال حاضر، همه‌گیری ویروس کرونا بدون جدول زمانی مشخص در افغانستان و بقیه کشورها در حال افزایش است. بنابراین، مسلماً باید توجه بیش‌تر به کمک‌های بشردوستانه باشد، که برای آن دولت، شخصیت‌های ملی و سکتور خصوصی نیاز به همکاری مشترک دارند. در این میان، دولت باید برنامه‌ریزی برای حل بحران اقتصادی آتی را آغاز کند.



لیکواله: غوټۍ
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله؛

# په امریکا کې بشري حقونه؛ سپین پوستي پولیس تور پوستی امریکایی وواژه

په امریکا کې یو افریقایي الاصله امریکایی د سپین پوستي پولیس د تشدد له امله مړ شو او دغه نژادي سپکاوی د امریکا بشري حقونو ته زیان رسوي. پر ځایي وخت د مې په ۲۷مه د امریکا د مینیسوټا ایالت په اپولیس ښار کې د پولیسو د زور زیاتي پرضد لاریون وشو او وروسته اورلگېدنه رامنځته شوه. لامل یې دا دی چې د رواني میاشتې د ۲۵مې په ماښام، د گیورگ فلویډ په نوم یو افریقاییالاصله امریکایي د جعلي نغدو پیسو د کارولو په تور د سپین پوستي پولیس لخوا ونیول شو، پولیس هغه چپه کړ او پر ستوني یې ورته زنگون کېښود، که څه هم هغه غږونه کول چې ساه یې بنده ده، تنفس نه شي کولی، خو پولیس خپل تشدد ختم نه کړ او په پای کې یې ساه ووتله.

د اړوندو ویډیوگانو له خپرېدو وروسته، په امریکا کې زرگونو کسانو لاریون وکړ او لاریون کوونکي د پولیسو د زور زیاتي له کړو وړو سره مخامخ شول، د دوی غوسه یې راوپاروله او د پولیسو یاد کړه وړه په امریکا کې د لا سخت قهر سبب گرځېدلي دي. بېلابېلو خواوو په جلا جلا توگه د پولیسو د زور زیاتي پر کړو وړو نیوکې وکړې او له حکومته یې کلکه غوښتنه وکړه چې اړوندو پولیسو ته باید سزا ورکړي.

امریکا کډوال مېشتی هېواد دی او د بېلابېلو قومونو او ملتونو وگړي پکې اوسېږي. که څه هم امریکا تل پر دې ټینگار کړی چې هر څوک برابر حقوق لري او بشري حقونو ته تر ټولو لومړیتوب ورکوي، خو په دغه هېواد کې د نژادي سپکاوي پېښې څو څو ځله رامنځته شوې دي. په تېرو څو کلونو کې خبري رسنیو داسې زیاتې پېښې په ډاگه کړې چې د ملي لږکیو ځوانان په امریکا کې د پولیسو د زور زیاتي له کړو وړو سره مخ دي او حتی بې گناه وژل کېږي. ویل کېږي چې ورته پېښې د نړۍ په نورو ځایونو کې نایابې دي. په امریکا کې نژادي سپکاوی بشري حقونو ته سخت زیانونه رسولي دي. ملي لږکي په امریکا کې د کاري فرصت، مسلکي پرمختگ، عایداتو، ښوونې، فرهنگ او ژوند په بېلابېلو ساحو کې ټیټ مقام لري، په تېره بیا د عدلیې په برخه کې ښځې ټیټ ځای لري. د سږ کال په اپریل کې د امریکا د یوې ټولپوښتنې له مخې، د کووېډ -۱۹ وبا له رامنځته کېدو راهیسې، کابو شپیته سلنه اسیاالاصله امریکایانو د دوی پر ضد د زور زیاتي پېښې کتلي او په ورته وخت کې د اسیایي الاصله امریکایانو په مقابل کې جرمونه هم زیات شوي دي.

رښتیا دا دي چې په امریکا کې نژادي سپکاوی د سختو ټولنیزو مسئلو سبب گرځېدلی، له دې امله د بېلابېلو قومونو ترمنځ اړیکې خرابې شوې او د مختلفو قومونو ترمنځ د قهر او کرکې له امله جرمونه هم زیات شوي دي. د امریکا په دننه کې سیاسي جوړښت، تاریخي دودونه او ایډیالوژي د نژادي سپکاوي ریښې دي. که په دغو برخو کې اصلاحات رانه شي او د نژادي سپکاوي مسئله حل نه شي، نو هېڅکله به په دغه هېواد کې د ملي لږکیو بشري حقونه ښه ونه ساتل شي.

# د افغان کډوالو د ډوبېدو پېښه او پر ایران- افغان اړیکو یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د راپورونو له مخې، د روان کال د ثور میاشتې په ۱۲ مه یوشمېر افغان کډوال چې په غیر قانوني توګه د ایران پولې ته اوښتي وو، د ایران د پوله ساتو ځواکونو لخوا په دهانه ذوالفقار سیمه کې ونیول شول. دا افغانان له ځورونې او شکنجې وروسته په بې رحمۍ سره سیند ته ګوزار شوي وو. د دغه غیر انساني عمل پر وړاندې په سیمه ییزه او نړیواله کچه سخت غبرګونونه راپورته شول، افغان حکومت وویل چې دا ډول عمل د بښلو وړ نه دی او د څېړلو لپاره یې با صلاحیته پلاوی ټاکلی دی.

ایران ته د افغان کډوالو هجرت د روسي لښکرو له تېري سره سم پیل شو چې اوسمهال نږدې یو میلیون ثبت شوي او نږدې دوه میلیونه ناثبت کډوال په ایران کې مېشت دي. د تېرو لسیزو په اوږدو کې ډېر ځله افغان کډوال په ایران کې د تاوتریخوالي او ځورونې ښکار شوي، وهل ټکول شوي او وژل شوي هم دي، د افغان کډوالو پر وړاندې د ایرانیانو کرکه او ناوړه برخورد وړاندې هم ډېر ځله په هېواد کې دننه او د باندې غبرګونونه پارولي وو، خو افغان حکومت، ایران او نړیواله ټولنه په دې نه ده توانېدلې چې په ایران کې له مېشت افغان کډوالو څخه په سمه توګه دفاع وکړي او له خپلو لومړنیو انساني حقونو یې برخمن کړي.

**ایران او افغان کډوال**

افغان کډوال په ایران کې د لسګونو کلونو مهاجرت په لړ کې، وار په وار د ایراني امنیتي مقاماتو له خوا د ځورونو او تبعیض ښکار شوي دي، د بشري حقوقو د نړیوال سازمان په وینا، هغه افغانان چې په ایران کې ثبت هم دي، یوازې د محدودو، سختو او کمې مزدورۍ لرونکو دندو او کارونو اجازه ورکول کېږي. کډوالو ته تعلیم، واده او له انساني حقونو څخه د خپلې دفاع په برخه کې محدودیتونه رامنځته شوي، زرګونه افغانان په زندانونو کې د غلا، قاچاق او قتل په تور ساتل شوي او د حقونو د دفاع په خاطر وکیل او حقوقي مشاور ته د لاسرسي اجازه نه لري.

د ګارډین د رپوټ پر بنسټ، ایران دولت د دې لپاره چې ایران ته په ناقانونه ډول د راتلونکو افغان کډوالو شمېر راکم کړي، د کډوالو او د دوی د ماشومانو سره ناوړه برخورد او سپکاوی کوي، کورنۍ یې سره وېشي او د کورنیو لویان په زوره کار ته مجبوري او شکنجه کوي یې، د کډوالو د شړلو په موده کې بې دلیله پیسې ترې غوښتل کېږي، بې مزده کار ته مجبورېږي او له کافي اندازې خوراکي توکو پرته له هېواده ویستل کېږي.

له ایران څخه د راستنو شویو کډوالو په وینا، په ایران کې د افغان په حیث ژوند کول د مجرم غوندې ژوند کولو په شان دی، د ډنمارک د نړیوالو مطالعاتو انستیټیوټ په یوه څېړنه کې له افغان کډوالو داسې نقل قول کوي: ((ایرانیانو به موږ د «مردارخورو افغانانو» او «افغاني خځلو» خطاب کاوه، افغانانو ته سپکاوی یو عادي نورم ګرځېدلی، د دوی په اند، افغانان خراب او مردار خلک دي، دوی فکر کوي چې موږ هېڅ انسانان نه یو، په ایران کې له ځناورو سره د افغانانو په نسبت ښه سلوک کېږي، هر څوک چې وغواړي له افغانانو سره هر رنګه سلوک کولای شي او داسې ډېر د تاوتریخوالي واقعات شته چې ثبتېږي نه او ایراني چارواکي یې په اړه چوپ پاتې کېږي. د افغانانو پر وړاندې په ایران کې تبعیضي چلند او تاوتریخوالي په اړه زیات راپورونه او څرګندونې شوې دي.

د خامه پرېس د رپوټ له مخې، د کرونا بحران په پیل سره د ایران روغتونونو په کرونا د اخته‌افغانو مریضانو له معالجې ډډه کوله، چې په نتیجه کې افغانستان ته په کرونا ککړو افغانانو د راستنېدو سیلاب راخوشې شو.

**د پېښې جریان**

د ۱۳۹۹ لمریز کال د ثور د میاشتې په ۱۲ مه،۵۰ افغانان چې غوښتل یې د کار په موخه له پولې څخه ایران ته واوړي، د ایران د پوله ساتو ځواکونو له لورې نیول شوي، چې له سختو شکنجو وروسته د هریرود سیند ته غورځول شوي، د پېښې له شاهدانو څخه یوه تن د فرانس ۲۴ خبري شبکې ته ویلي: «موږ د ۵۰ په شاوخوا کې کسان وو، په موږ کې سپین ږیري او ماشومان هم وو، په پړیو مو ځانونه تړلي وو او د هریرود له سیند څخه پورې وتو چې د ایران پوله ساتونکو ونیولو، یوه شپه یې په پوسته کې وساتلو، بیا یې موږ ته په سپکو سپورو پیل وکړ. موږ یې لوڅې نځا ته اړ کړو، په لغتو او د ټوپکو په قنداغونو یې ووهلو، بیا یې په لوی بس کې بار کړو، د سید غاړې ته یې بوتلو او ویې ویل چې له سینده بیرته پورې وزئ، که نه په ډزو مو وژنو. د اخطار په شکل یې هوایي ډزې هم وکړې، مونږ د مرګ له وېرې له سینده پورې وتل پیل کړل، په موږ کې د اکثرو لامبو نه وه زده، د سیند څپې هم قوي وې، ایراني ځواکونو خندل او ملګري مې په سیند لاهو شول».

د ایراني ځواکونو له لوري دغه زړه بوږنوونکې عمل تونډ غبرګونونه راوپارول. د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محمد حنیف اتمر د یادې پېښې په اړه خواشیني څرګنده کړې او له هر رنګه ډیپلوماتیکو لارو یې د څېړلو وعده وکړه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم د پېښې په اړه غبرګون ښودلی او ویلي یې دي: «افغان مقامات هڅوم چې پراخې پلټنې وکړي او د دې پېښې له عاملانو سره حساب کتاب وکړي».

د دې ترڅنګ د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې الیس ویلز هم د پېښې په اړه څرګندونې کړې او ویلي یې دي: «له افغان کډوالو سره د ایران د بې رحمانه چلند او ناوړه استفادې په اړه چې په دغه راپور کې ادعا شوې، وحشتناکه ده، موږ په دې اړه د هر اړخیزو څېړنو څخه ملاتړ اعلانوو.»

طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره یاد اقدام ظالمانه بللی او له ایراني حکومته یې غوښتي چې د کډوالو سره د ترحم، اسلامي اخوت او ګاونډیتوب د اصولو سره سم چلند وکړي. په افغانستان کې دننه هم سیاسي او ټولنیزو ډلو، ولسي او مدني شخصتونو، د ایراني مقاماتو د دې ناوړه چلند په کلکه غندنه کړې او هغه یې د نه منلو بللې دی.

افغان دولت ویلي چې د پېښې د پلټنې لپاره یې له ایران سره په ګډه پلاوی ټاکلی چې په ۲۴ د ثور یې خپلې پلټنې په یاده سیمه کې پیل کړي او ویلي یې دي چې پېښه به د قربانیانو د کورنیو لپاره تر تامینولو په جدي ډول تقیب کړي.

**د پېښې لاملونه**

په ایران کې د افغانانو پر وړاندې تبعیض د دوو اړخونو له خوا ترسره کیږي؛ لومړی د ایران دولت دی چې افغانان له پارکونو او ځینو سیمو منع کوي، د تحصیل پر وړاندې یې محدودیتونه را منځته کوي، د سپکاوي او تاوتریخوالي له لارې یې د هېواد پرېښودو ته مجبوروي. دویم ځایي خلک دي چې په کورونو، لارو او په سړکونو کې افغانان ځوروي، د کار اجوره یې نه ورکوي او هېواد او قوم ته یې سپکاوی کوي.

د ځینو شنونکو په اند، د ایرانیانو لخوا د افغانانو پر وړاندې رقابت، نژاد پالنه او قوم پالنه ددې لامل شوي چې د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ اجتماعي روابط متاثره کړي، ایرانیان د افغانستان ناوړه حالاتو ته په کتو، غواړي افغانانو ته خپل عظمت وښیي او د ځورونې، سپکاوي او تاوتریخوالي له لارې ورته د کمترۍ احساس ورکړي.

ښایي چې د ایران کمزوری کېدونکی اقتصاد هم ددې لامل دی چې د افغانانو پر وړاندې تبعیضي چلند کې زیاتوالی راشي. په تېرو لسیزو کې ایران د امریکا لخوا له بېلابېلو اقتصادي بندیزونو سره مخ شو، چې له امله یې د دغه هېواد اقتصاد وځپل شو. د ایران حکومت په وینا، حکومت یې د بندیزونو په شتون کې د دې توان نه لري چې مهاجرین ومني او اداره یې کړي. همداراز د ایران لخوا ترسره شوې څېړنې ښیي چې د افغانانو شتون په هېواد کې د کارونو په شتون منفي اغېزه لري او د هېواد په ټولو سکتورونو کې کاري پوستونه له کمبود سره مخې کړي.

**پایله**

د ایران لخوا د وروستیو اقداماتو او همدارنګه نورو تبعیضونو او تاوتریخوالو ترسره کول کولای شي د سیمې په سیاسي او اقتصادي پالیسیو ژورې اغېزې ولري، کوم ډول چې د دواړو اړخونو د خلکو او دولتونو ترمنځ واټن رامنځته کیږي، د وګړیو په سینو کې نفرت او کرکه رامنځته کېږي، هماغه ډول د هېوادونو سیاسي نظریات او اقتصادي اړیکې هم رخ پیدا کوي.

د وروستۍ پېښې عاملین ممکن د افغان حکومت د ضعف او ناکامه ډیپلوماسۍ له امله د عدالت غېږ ته ونه سپارل شي، خو دا او ورته پېښې به ضرور د دواړو ګاونډیو هېوادونو ارتباطات کمزوري کړي. افغان حکومت له یو زیات شمېر مجبوریتونو سره سره، بیا هم د امریکا او ایران په شخړه کې تر اوسه بې پرې پاتې شوی. که د ایران دولت د دې پېښې شفافه پلټنه ونه کړي او د هغې په خاطر له افغان ولس نه ښښنه ونه غواړي، کیدی شي د افغانستان لخوا د اعلان شوې بې طرفي کچه راښکته او امریکې ته د ایران پر وړاندې د افغان حکومت د لمسولو پلمه په لاس ورشي. د دې نه ور هاخوا، د هریرود سیند ټول وژنه یوه حقوقي او جنایي پېښه هم ده چې حق العبدي جنبه لري. هېڅوک هم نشي کولای د متضررینو د ژوند حق د حادثې مرتکبینو ته ور وبښي. ایراني مقامات که نور هېڅ شي ته تیار نه وي، نو لږ تر لږه د وژل شویو افغانانو دیت ( د وینې بیه) خو باید د هغوی کورنیو ته پرې کړي.

په داسې حال کې چې سیمه له مخکې نه د امریکا- ایران د کشمکشونو په وجه له یوې خوا او په افغانستان کې د روانې جګړې په خاطر له بلې خوا کړکېچنه ده، دا ډول پېښې د هېڅ یو ګاونډي هېواد (ایران او افغانستان) په ګټه نه دي. دا ډول اقدامات نه یوازې غیر انساني کړنې دي، بلکې د دواړو هېوادونو د اقتصادي او سیاسي اړیکو د کمزورتیا سبب کېدای شي، نو د دواړو هېوادونو مشران باید په ګډه هڅه وکړي تر څو له یوې خوا د پېښې عاملین ژر تر ژره په ګوته او سزا ورکړی شي او له بلې اړخه د دواړو هېوادونو د خلکو او دولتونو ترمنځ د انساني همدردۍ، غوره ګاونډیتوب او ګټورو سیاسي او اقتصادي اړیکو د ساتلو لپاره ګډ کار دوام ومومي.

# د سولې د هڅو پر چټکتیا ټینګار؛

## سناتوران وايي، ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرې پیل شي



مشرانو جرګه د سولې د هڅو د لا چټکتیا غوښتونکې ده. د مشرانو جرګې غړو د ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ملي مصالحې عالي شورا له جوړېدو هرکلی کوي، خو تر څنګ یې د دې غوښتونکي دي چې د سولې هڅې چټکې او بین الافغاني خبرې ژر پیل شي. دوی د ولسمشر غني تر څنګ له طالبانو هم غواړي چې نور دې تاوتریخوالی کم کړي او د افغانانو غوښتنو ته دې پام وکړي. بلخوا افغان حکومت هم دا تمه لري چې طالبان به د زندانیانو په خوشي کولو سره د تاوتریخوالي کچه کمه کړي.

سره له دې چې افغان حکومت او طالبانو د یو بل د زندانیانو د خوشي کولو لړۍ چټکه کړې، خو د تاوتریخوالي د کموالي کوم څرک نه لګي. د اختر په مناسبت رامنځ ته شوی اوربند پای ته رسېدلی او دواړو لورو په نښتو کې یو بل ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

د ملي شورا غړي بیا د سولې په برخه کې د هڅو پر چټکتیا ټینګار کوي. سناتورانو تېره ورځ د مشرانو جرګې په غونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې بین الافغاني خبرې دې ژر پیل شي او روان تاوتریخوالی دې ودرول شي. دوی پر حکومت او همدا راز طالبانو غږ کړی چې د افغانانو غوښتنو ته درناوی وکړي، سولې ته لومړیتوب ورکړي او اوربند ته تیار شي.

د مشرانو جرګې غړی ګل احمد عظیمي د ډاکټر عبدالله او ولسمشر غني ترمنځ جوړجاړي ته په ښه سترګه ګوري او وايي چې دا به د سولې لپاره ګټور اقدام وي. د ده په وینا: ((د مشرانو ترمنځ سیاسي توافق د سولې لپاره کار اسانه کړ. اوس دې دواړه سولې ته کار وکړي، د سولې هڅې دې چټکې کړي)).

د مشرانو جرګې بل غړی محمود خاکریزوال هم وايي چې اوس باید د حکومت مشران د سولې لپاره کار وکړي؛ ځکه سیاسي اختلافات یې پای ته رسېدلي او تر دې د ډېر وخت په شخصي ناندریو نه ضایع کوي. د ده په خبره: ((دواړه دې د سولې لپاره کوټلي ګامونه واخلي. اوس د سولې لپاره هر څه چې لازم دي باید دوی یې ترسره کړي، هغه څه دې وکړي چې د ملت په ګټه دي)).

د مشرانو جرګې دویم مرستیال بیا پر دې ټینګار کوي چې باید طالبان او افغان ځواکونه دې تاوتریخوالی کم کړي، د سولې لپاره دې نرمښت وښیي او د زندانیانو د خوشي کولو لړۍ دې چټکه کړي. د اکبر ستانکزي په خبره: ((زموږ غوښتنه له حکومت، په تېره له ولسمشر اشرف غني دا ده، چې د سولې مذاکرات ژر تر ژره پیل کړي، همدا راز د بندیانو په خوشي کولو کې دواړه لوري باید نرمښت وښیي او دا لړۍ چټکه کړي)).

د مشرانو جرګې غړي وايي، که د سولې هڅې ځنډېږي، نو ښايي په هېواد کې تاوتریخوالی ډېر شي او ګڼې وسله والې او نړیوالې ترهګرې ډلې خپل فعالیتونه پیاوړي کړي. دوی وايي چې همدا اوس هم د هېواد په شمالي ولایتونو کې داعش ډلې یو ځل بیا د کسانو جلب او جذب پیل کړی او هڅه کوي خپلې لیکې له سره تنظیم کړي.


بلخوا افغان حکومت بیا وايي، دوی تمه لري چې د زندانیانو په خوشي کولو سره طالبان تاوتریخوالی راکم کړي او جګړې ودروي. د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل ویلي چې دوی به د ولسمشر غني د فرمان له مخې دوه زره طالب زندانیان خوشي کوي، خو دا اوس د طالبانو مسوولیت دی چې جګړې کمې کړي او د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری وښیي. تر دې وړاندې طالبانو د افغان حکومت له لوري د زندانیانو د خوشي کولو هرکلی کړی و او په مقابل کې یې د حکومت ځینې زندانیان خوشي کړي وو.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◙ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◙ ژباړن: علي‌الله متوکل

**لومړۍ برخه**
**د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!**
**دویم څپرکی**




**ماسراتي فکر**

اوس هغه پوښتنه بیا کوم:((چېرته ژوند کوې؟)) اوس به تاسو د پیسو گټلو له یوه کونجه بل کونج ته په بدلېدو پوهېدلي یئ. دا یوازې د پیسو گټلو بېل جوړښت نه دی، دا د ژوند یو بېل عمل دی.

هو، دا ټوله د کاروبار په اړه ده. خو یوازې کاروبار هم نه دی. کاروبار یې بهرنی اړخ دی. ټانگه چلوونکی که د سیالۍ په ماسراتي موټر کې کېنوې، نو سیالي نشي گټلای. مهارت، زده کړې او تر ټولو زیات د سیالۍ فکر درلودلو ته اړتیا ده.

د یوویشتمې پېړۍ د تجارت یو ښه والی دا دی چې ټولې تجارتي زمینې درته برابرې شوې دي.

د ټولو کارونو د سرته رسولو مسئولیت ستاسو په لاس کې دی، تاسو باید له ځانه پرته بل څوک ملامت ونه گڼئ. ټول کار هم باید یوازې خپله ونه کړئ، لکه ما چې خپل تجارت یوازې په خپله راپورته کړ. د یوویشتمې پېړۍ د تجارت یو ښه والی دا دی چې ټولې تجارتي زمینې درته برابري شوې دي او ستاسو د بریالیتوب لپاره ښه تجربه لرونکي مشران شته.

خو پام چې تېروتنه ونه کړئ. که ستا د بریالیتوب امکان وي، نو یوازینی کس ته یې چې بریا ته به ځان رسوې او د دې لپاره د یوه متشبث په څېر فکر کولو ته ضرورت لرې. که داسې فکر ونه لرې، نو که کاروبار دې هرڅومره بریالی وي یا هرڅومره ښه ښوونکي ولرې، پایله به خورا ستونزمنه وي.

د دې کتاب په دویمه برخه کې چې پر کوم کاروباري جوړښت بحث کوو، هغه د ماسراتي موټر په څېر دی او ته یې موټروان یې. ته تر ټولو لومړی او اړین یې. ایا د موټر چلولو ته تیار یې؟ څه چې اړین دي، ایا ته هغه په ځان کې لرې؟

**شپږم څپرکی**

**٦. د واک اخیستلو وخت رارسېدلی دی!**

(۱۹۸۵م) کال و. زه او مېرمن مې (کېم) بې‌کوره او بېکاره وو او د سپما ساتلې پیسې مو هم بیخي لږ را پاتې وې. کرېډیت کارتونه مو هم ټول مصرف کړي وو. په خپل زاړه نسواري رنگه موټر کې اوسېدو، د هغه چوکۍ زموږ د ویدېدلو ځایونه وو. وروستۍ اونۍ چې په خپل موټر کې ویدېدلو، دغه ترخه حقیقت ورو ورو اغېز راباندې وکړ چې موږ څوک یو، څه کوو او کوم لوري ته ځو.

کله چې مو یوه ملگرې له دې بد حالته خبره شوه، د کور په تلخونه کې یې یوه کوټه راکړه. دوستان مو چې خبر شول، هر یوه به لومړی دغه خبره کوله:((ولې ځان ته یو کار نه پیدا کوئ؟)) اول مو هڅه کوله چې هغوی پوه کړو؛ خو زموږ په دلایلو د خوش باوره خلکو قانع کول ډېر سخت وو. یو داسې کس چې دندې لرلو ته ارزښت ورکوي، په دې د هغه پوهول چې ولې باید دنده ونه لرو، ډېر سخت دي.

یو دوه ځله مو د یو څو ډالرو گټلو لپاره لنډمهاله کارونه وکړل. له دې کارونو مو موخه یوازې د گېډو ډکول وو او هغه موټر ته مو تېل پیدا کړل چې د کور گټه مو ترې اخیسته. دا خبره باید ومنم، د ډېر سخت شک پر مهال به د یوې ډاډه او مصئونې میاشتنۍ تنخوا لرونکې دندې فکر راته پیدا کېده؛ خو مصئونه او ډاډه دنده زموږ موخه نه وه، نو مقاومت مو کاوه. موږ هر وخت یوه ډاډه، مصئونه او ښه تنخوا لرونکې دنده پیداکولی شوای. ځکه زه او مېرمن مې دواړه له پوهنتونه فارغ، د کاري وړتیا خاوندان او د ښه کاري وجدان لرونکي وو. خو موږ خوندي او ډاډه دنده نه غوښته، بلکې د اقتصادي ازادۍ په لټه وو. موږ په ( ۱۹۸۹م) کې میلیونران وو.


ډېر خلک وایي:«پیسې، پیسې گټي.» موږ په څلورو کلو کې له بې کورۍ څخه میلیونران شوو او په وروسته پنځو کلو کې مو اقتصادي ازادي ترلاسه کړه. په پیل کې مو هېڅ پیسې نه درلودې. پوروړي هم وو او چا پیسې هم نه راکولې. لوړو زده کړو هم مرسته نشوی کولای. لوړې زده کړې یوازې د عمومي کارونو لپاره په درد خوري. دا زده کړې د هغو خلکو لپاره نه دي چې د شتمنېدو په لټه کې وي.

که د پیسو گټلو لپاره پیسې او لوړې زده کړې اړینې نه دي، نو څه شی اړین دي؟ هیله، اراده، د زر زده کړې هیله او پر دې پوهېدل چې د گټې لپاره له هغو څلورو کونجونو څخه کوم کونج زما لپاره دی. بس، دغه اړین شیان دي.

**دوام لري...**

# د کابل ولایت پېژندنه

حشمت الله نوري



کابل ولایت د هېواد په مرکزي زون کې موقعیت لري، چې مرکز یې کابل ښار دی او د افغانستان پلازمېنه گڼل کېږي.

دغه ولایت په شمال لوېدیځ کې له پروان، په شمال ختیځ کې له کاپیسا، په ختیځ کې له لغمان، په سوېل ختیځ کې له ننگرهار، په سوېل کې له لوگر او په سوېل لوېدیځ کې له میدان وردگو ولایت سره گډه پوله لري.

د دغه ولایت پراخوالی ٤٥٨٥کیلومتره مربع او تر نیمایي زیاته برخه یې (٥٦،٣٪) غرونو او نا همواره غونډیو پوښلې ده، په داسې حال کې چې ٪۳۷،۷ سلنه یې هوارې ځمکې دي.

په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د احصایې مرکزي اداري د دغه ولایت د وگړو شمېر نږدې ۳۹۵۰۳۰۰ تنه اټکل کړی و.

کابل د افغانستان اقتصادي او فرهنگي مرکزی دی، چې د سمندر له کچې یې لوړوالی ۱،۸۰۰ متره دی، چې په تنگو او باریکو لارو د هندوکش غرونو او کابل سیند په اوږدو کې موقعیت لري.

دا ښار د کندهار، هرات او مزار ښارونو سره په ټول هېواد کې د غځېدلي حلقوي سړک له لارې نښلول شوی او د دې ترڅنگ د پېښور ښار پر لور د جلال اباد لویې لارې اصلي مسیر دی.

کابل دغه راز گڼ شمېر تاریخي ځایونه، جوماتونه، زیارتونه، بڼونه، مشهورې دروازې، مشهور شاعران او لیکوالان هم لري.

دغه ولایت په خپله غېږ کې تاجکو، پښتنو او هزاره او نورو قومونو ته ځای ورکړی او خلک یې تر ډېره په دري او پښتو ژبو خبرې کوي او سني مذهبه دي، خو ځینې اهل تشیع، هندوان او سیکان هم پکې اوسېږي، چې په ځانگړې ډول په مرکز کې یې مېشت دي.

د دغه ولایت مشهورې دروازې له، دروازهٔ سفید، لاهوري دروازه، گذرگاه دروازه او سردار جان خان دروازې څخه عبارت دي، د دې ترڅنگ د خیرخانې او ارغندۍ کوتلونه هم لري.

کابل له ۱۰۵۳ کلیو او ۱٤ ولسوالیو (ده سبز، چهار اسیاب، پغمان، موسهي، قره باغ، استالف، فرزه، کلکان، گلدره، میربچه کوټ، سروبي، بگرامي، خاکجبار او شکردرې) څخه جوړ شوی، د دې څنگ کابل ښار هم ۲۲ ناحیې لري.

د کابل سیمې د څلورو فصلونو په درلودو سره وچ اقلیم لري او د باران کلنۍ اندازه یې د ورې او غويي په میاشتو کې ٤۰۰ ملي مترو ته رسېږي. په ژمي کې یې د حرارت درجه له -۱۵ او-۲۰ وي، په داسې حال کې چې په اوړي کې یې درجه ۱۵+ او ۳۸+ ده.

د ژمي مرغومي میاشت پکې تر ټولو ډېره یخه گڼل کېږي، چې د تودوخې منځنۍ کچه یې ۱۲- او تر ټولو گرمه هغه یې د زمري میاشت ده، چې د تودوخې منځنۍ درجه پکې ۳۵+ ته رسېږي.

کابل د دې تر څنگ د لاجوردو او یاقوتو په څېر قیمتي ډبرې هم لري. د کابل اقلیمي وضعیت (اب و هوا) د هېواد د عمومي وضعیت تابع ده، څرنگه چې افغانستان نږدې د اسیا په منځ کې پروت دی، نو جغرافیایي موقعیت عرض، طول، لوړوالی، د غرونو او سیندونو مسیر او نور ټول هغه عوامل دي، چې د دغه هېواد په اقلیمي وضعیت یې تاثیر کړی دی.

د دغه ولایت د پسرلي موسم له ورې میاشتې(مارچ ، اپرېل) څخه پیلېږي او د غبرگولي تر پایه(می، جون) پورې په منظم ډول دوام لري. دا موسم د دغه ولایت د ودې او انسباط موسم بلل کېږي، چې هوا یې عطرینه او زړه راښکونکې وي او د اقلیم له نظره هم دا درې میاشتې د کابل تر ټولو ښکلې او تازه ورځې وي.

د اوړي موسم یې له گرمو ورځو شپو څخه دی، چې د چنگاښ له میاشتې(جون، جولای) څخه پیل او د وږي میاشتې تر وروستیو(اگست، سپټمر) پورې دوام کوي. د دغه موسم ورځې دومره گرمې او خسته کوونکې وي، چې د خلکو د کار او فعالیت مخنیوی کوي.

د منې موسم یې له تلې میاشتې (سپټمبر، اکتوبر) څخه پیل او د لیندۍ میاشتې تر پایه(نومبر، ډسمبر) پورې دوام لري، چې د کرنیزو محصولاتو او مېوې د ټولولو وخت دی، چې کابل پکې ښې لاسته راوړنې لري او ارزانې هم پکې وي.

د کال درې میاشتې، چې له مرغومې میاشتې (ډسمبر، جنورې) پیل او د سلواغې(جنورې، فبروري) او کب میاشتې (فبروري، مارچ) پورې دوام لري، چې ټولې ورځې یې سړې او له واورو ډکې وي.

کرنه، مالداري، سوداگري، ټولنیز خدمات، صنایع او نور د دغه ولایت عایداتي سرچینې دي. د کابل ولایت ١٦.٥٪وگړي په کرنه، ١٦.٩٪، صنعتي مسایلو، کانونو او ودانیو، ٥٠.١٪ د خدماتو په برخه کې او ١٦.١٪ سلنه نور یې په عامه ادارو یا حکومت کې په کار بوخت دي.

د دغه ولایت کرنیز محصولات له غنمو، وربشو او مېوو څخه عبارت دي، چې د باغونو په برخه کې یې تر ټولو غوره حاصلات له انگورو (٦٨٪) تر لاسه کېږي، چې (۳۰٪) یې زړې لرونکې مېوې دي.

د غنمو او کچالو په څېر حبوبات د دغه ولایت عمده محصولات شمېرل کېږي، په داسې حال کې چې غنم یې په هېواد کې دننه مصرفېږي، بیا هم په دې کچه نه دي چې د هېواد کورنۍ اړتیاوې دې پوره کړي.

کوچنۍ زلزلې، د سیلابونون راوتل او د ځمکې خوځېدل، په دغه ولایت کې پېښېدونکې عمده بېړنې خطرونه گڼل کېږي.

کابل ولایت ۳۹۵۰۳۰۰ اوسېدونکي لري(۱۳۹۱ـCSO) چې د کورنیو شمېر یې ۷۸۵۹۳ ته رسېږي او د هرې کورنۍ د غړو منځنۍ شمېره ۷ تنه ده، چې اوولس سلنه نفوس یې په ولسوالیو او پاتې ۸۳ سلنه یې په ښار کې ژوند کوي. د دغه ولایت د وگړو له شمېر څخه ٥۲سلنه نارینه او ٤۸ سلنه یې ښځې دي.

د دغه ولایت د پوهنې سکتور نظر نورو ولایتونو ته پرمختگ کړی، سره له دې چې د تېرو څو لسیزو تپل شوو جگړو په جریان کې د د کابل ولایت د پوهنې بهیر سخت زیان ولیده، خو بیا هم اوسمهال په یاد ولایت کې ٤۳۷ ښوونځي، چې له دې ډلې یې ۲۲٥ لومړني ښوونځي، ۷۸ یې منځني ښوونځي او ۱۲٥ یې لېسې دي، په ټولو ولسوالیو کې فعالیت لري او له کومې جدي ستونزې سره هم نه دي مخ شوي.

د کابل ولایت په کچه ۲۳٥ ښوونځي ودانۍ نه لري او د ۲٤ نورو ښوونځیو ودانۍ تر کار لاندې دي، خو لا هم د دغه ولایت د ۱۷۰ ښوونځیو زده کوونکي تر خېمو او د ۲۳ نورو بیا په کرایي کورونو کې فعالیت کوي. په دغه ولایت کې د ۸٦٥٥٥ نجونو په گډون ۲٥۳۷۷۲ زده کوونکي زده کړه کوي، چې د تدریس چارې یې د ٥٥۹۹ښوونکو له خوا چې ۱٦۲۹ یې ښځینه دي، مخته وړل کېږي.

د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال( ۱۳۹۲کال) په ټول هېواد کې ۳۱ دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو ۸۰ خصوصي موسسې او پوهنتونونه فعالیت لري.

د سرچینې په وینا، ۱٥۰ زره محصلین د لوړو زده کړو په دولتي موسسو او پوهنتونونو او نږدې سل زره نور بیا په خصوصي پوهنتونونو کې زده کړه کوي، چې ۲٥ سلنه یې نجونې جوړوي.

د کابل ولایت ۹۰ سلنه وگړي له برېښنا څخه برخمن دي او ٦۰ سلنه سړکونه یې هم پاخه شوي، خو پاتې نور یې لا هم خام دي. کابل یو کرنیز ولایت دی، چې د ۹۰ سلنه خلکو اقتصاد یې په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی.

د دغه ولایت کرنیز محصولات له غنمو، وربشو، جوارو، پیازو، کچالو، انگورو، مڼو، زردالو او الو بالو په څېر مېوو څخه عبارت دی، چې نورو ولایتونو او بهر ته صادرېږي.

د کابل ۱۲٥٥٦۳ هکتاره ځمکه کرل کېږي او د کروندگرو شمېر یې له ٦۰ زرو څخه زیات اټکل شوی دی. همدارنگه نږدې یو میلیون څاروي هم، چې له وزو، پسونو او غواگانو څخه عبارت دي، په دغه ولایت کې شته.

په دغه ولایت کې ۱۳٤ ټولنیزې خبري رسنۍ شته چې د (خبري اژانسونو، تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، اونیزو او څلوارلس ورځینو ( جریدو، میاشتینو او مجلو) څخه عبارت دي، تر نورو ولایتونو د پام وړ پرمختگ کړی دی.

اوسمهال په دغه ولایت کې ۳۰ ټلویزیوني کانالونه، ۳٤ راډیویي دستگاوې، ۱٤ ورځپاڼې، ۳۷ اونیزې، ٤ څلورلس ورځنۍ، ٤ میاشتینۍ، ٤ مجلې او اته خبري اژانسونه فعالیت لري.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال د ټول هېواد په کچه ۳٤ ټلویزیونونه په کابل، ٥۲ سیمه ییز ټلویزیونه په ولایتونو، ٦۱ راډیویي پروگرامونه په کابل او ۱٥٦ په ولایتونو کې موجود دي.

د کابل له هسکو ټیټو ډک سیاسي تاریخ د نړۍ ډېری پوهان حیران کړي؛ ځکه چې دغه ولایت تل د جگړو او تصادفاتو ډگر و او له ویاړه ډک تاریخ یې هېڅ وخت د هېرېدو نه دی.

کابل ښار د اسمایي غره او شیر دروازې په لمنو کې د کابل سیند پر دواړو غاړو ودان شوی دی، چې د سمندر له کچې نږدې شپږ نیم زره فوټه لوړوالی لري.

په پخوانیو زمانو کې د کابل گرد چاپېره دېوالونه هم تاو شوي وو، چې د کابل ښار د ناحیو اړیکه یې د دغه ښار له اوو دروازو سره ټینگه کړې وه. نن هم د دغو دېوال نښې په اسمایي غره او شیر دروازه کې د کابل د پخواني تاریخي عظمت شاهدي ورکوي.

کابل د هېواد په تاریخي او خورا لرغونو ښارونو کې راځي، چې د ژوند گڼې پېښې، لوړې ژورې یې لیدلې دي. دا چې د ختیځ شمال او سوېل لوېدیځ په سوداگریزه څلور لارې پروت دی، نو سوداگریز اهمیت یې لا زیات شوی. د ریگوېدا په لرغوني کتاب کې دغه ښار ته د «کیسبها» نوم اخیستل شوی، چې لرغونتیا یې د بلخ او بامیانو له لرغونو ښارونو سره سیالي کوي.

همیانی

# په کورنۍ کې ښه چلند مو ژوند ښایسته کوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ډېری کسان کله چې په ټولنه او یا هم کاري محیط کې وي، له خلکو او خپلو همکارانو سره ډېر په زړه پورې، صمیمي او له مینې ډک چلند کوي چې له نېکه مرغه دا یو ښه عادت دی او په دې سره یې ورځ تر بلې د ملګرو شمېر هم زیاتېږي، خو له بده مرغه کله چې دغه کسان کورته ننوځي، دا هر څه له دروازې بېرون پرېږدي، داسې رفتار او خبرې کوي چې په یوه ډول نه یوه ډول یې د مېرمنې د آزار او خپګان سبب ګرځي. ډېری وختونه دا خبرې ان د بې ادبۍ تر حده رسېږي، خبره دومره له چوکاټه وځي چې ان مقابل کس یې هم د زغملو توان له لاسه ورکوي. کله چې موږ له خپلې مېرمنې سره ښه چلند کوو، دا په دې مانا ده چې هغوی موږ ته ارزښت لري او دغه څه د مېرمنو لپاره تر هرڅه ارزښناک او د قدر وړ دي، دوی احساس کوي چې خاوند ته یې څومره مهمه ده او د خاوند په شتون کې د پوره ډاډ او امنیت احساس ورته پیدا کېږي. کله چې تاسو خپلې مېرمنې ته په احترام قایل شی او درنښت ورکړی، معلومه خبره ده چې دوی دوه چنده له تا سره ښه چلند کوي او په درنه سترګه درته ګوري. دا څه یوازې د مېرمنو کار نه دی، بلکې که تاسو په هر ډول محیط کې له خلکو سره ښه چلند وکړی، نو په بدل کې به یې ښه چلند ووینی. دا خبره سمه نه ده چې وایي: «ښه مه کوه، بد نشته»، بلکې اصلي خبره دا ده چې وایي: «انسان د احسان تابع دی». که دې ښه وکړل، په بدل کې به یې ښه وینې او که خدای مه کړه له چا سره بد چلند وکړې، نو بیا د ښو تمه هم مه ترې کوه. څېړنو ثابته کړې



چې د نارینه وو په نسبت ښځې څو چنده پر خپلو مېړونو مهربانې دي. کېدای شي ځینې وخت د مېرمنې لخوا هم له خاوند سره بد چلند وشي، خو په ګډ ژوند کې دا هر څه ممکن دي او باید د دواړو ترمنځ د خبرو له لارې جوړجاړی وشي، مشهوره خبره ده چې وایي: «که یو کس د بام پر سره یوازې ژوند کوي، بهتره دا ده چې له یوې ژبورې ښځې سره تر چت لاندې ژوند وکړي». مېړونو ته هم لازمه ده چې تل د خپلو خبرو واک په خپل لاس کې واخلي، تل متین او با وقاره اوسي. د یوه نارینه لپاره لازمه ده چې هر ځای ته په کتو سره خبرې وکړي او خبرې یې د دې سبب نه شي، چې خدای مه کړه د چا د ازار سبب وګرځي.

که په کور کې په غوسه وی، خو کله چې دروازه ټک ټک کېږي، ژر تر ژره باید د خپلو خبرو لهجې ته بدلون ورکړی او په ډېره نرمه او له مینې ډکه لهجه او خلاصه تنده له راغلي کس سره خبرې وکړی. له دې لیکنې څخه مو موخه دا ده، چې له هر چا سره باید د خبرو کولو ځانګړی طرز په پام کې ونیسئ، په ځانګړي ډول له خپلې مېرمنې سره؛ ځکه هغه ستاسو د ژوند شریکه ده. که تاسو د خپل ژوند له شریکې سره ښه اړیکه ونه لری، نو مه هېروئ چې له خپل ژوند څخه په هېڅ صورت سره خوند نه شی اخیستی او بالاخره دا څه د دې سبب کېږي، چې اولادونه به مو هم په ښه روحیه نه وي روزلي او ان ډېری وخت کېدای شي ستاسو په کورنۍ کې د درز لامل وګرځي. د دې لپاره، چې پوه شی تاسو په خپل کور کې له مېرمنې سره په اصولو او د ادبي معاشرت په چوکاټ کې خبرې او چلند کوی کنه، باید دې پوښتنو ته ځوابونه ووایئ:

مېرمن مو ستاسو د خبرو او ورځني چلند په اړه څه احساس لري؟

ستاسو چلند ستاسو د مېرمنې پر ځان باور باندې څه اغېز لري؟

مېرمن مو د یوه نعمت په سترګه درته ګوري او که په شتون مو شرمېږي؟

دغو پوښتنو ته په ځواب ورکولو سره به درته جوته شي چې تاسې څه ډول کس یی. که پوه شوی، چې تاسو په سم ډول له خپلې مېرمنې سره د معاشرت د ادابو له مخې پر مخ نه ځی، نو لا هم وخت لری چې خپل ځان جوړ کړئ تر څو له پاتې ژونده خوند واخلئ.

څه باید وکړئ؟

تاسو پر دې پوهېږی چې مینه ګستاخي نه، بلکې د ښه ژوند لپاره تر ټولو غوره لاره ده. که په ریښتیا هم له خپلې مېرمنې سره مینه لری، نو ضرور باید له هغوی سره د معاشرت آداب هم زده کړئ. د دې کار لپاره تر ټولو مخکې له هغو کارونو لاس واخلئ، چې د مېرمنې د خپګان او آزار سبب مو ګرځي.

په دغه ځای کې درې شیان دي، چې له تاسو سره مرسته کوي تر څو له مېرمنې سره مو د معاشرت آداب زده کړی:

۱- له مېرمنې سره مو داسې چلند وکړئ چې تاسو یې هم د کولو تمه ترې لری.

۲- کله چې تاسو له کور بیرون، په ټولنه، کاري محیط، له نږدې ملګرو سره څه ډول چلند کوی، په کور کې هم په هماغه ډول خندان او مینه ناک اوسئ.

۳- هغه څه چې مخکې مو مېرمنې در څخه غوښتې، تر اوسه مو نه دي تر سره کړي، بیا ترې وپوښتئ. دغه څه هم ورسره شریک کړئ او قناعت ورکړئ چې غوښتنې یې باید په داسې حد کې وي چې ستاسو له وسې سره پوره وي، ډاډه یم کله چې له خپلې مېرمنې سره په سم ډول چلند وکړئ، په هر ډول درسره ګزاره کوي؛ ځکه چېرته چې خوښي وي، هلته بیا مادیاتو ته دومره ارزښت نه ورکول کېږي او معلومه خبره ده، چې خوښ ژوند په ډېر پیسو او مادیاتو کې نشته، یوازې موږ خپله کولای شو، چې د ځان لپاره د خوښ ژوند زمینه برابره کړو او بس.

# د تبعیضي چلن پر وړاندې د لاریونونو دوام؛

## د امریکا دفاع وزارت پوځ ته امر کړی چې د وضعیت د کابو کولو لپاره لاس پر کار شي

د امریکا د متحده ایالتونو په ګوټ ګوټ کې لا هم د یوه سپین پوستي پولیس له خوا د یوه تورپوستي د وژنې په غبرګون کې لاریونونه روان دي چې په ډېریو ځایونو کې پر تاوتریخوالي اوښتي دي.

د دغه لاریونونو له کبله د امریکا په زیات شمیر ایالتونو کې د تاوتریخوالي، لوټمار او نا ارامیو د درولو په خاطر بندیزونه لګول شوي او د ملي ګارد ځواکونه ګمارل شوي چې حالت کنترول کړي.

ورمه شپه پولیسو د اعتراض کوونکو د خورولو لپاره له اوښکې بهوونکي ګاز او د ربړې مرمیو څخه کار واخیست چې یو شمېر لاریونوال او خبریالان یې ژوبل کړل.

د اسوشیټېډ پرېس، د راپور له مخې، د پنجشنبې د ورځې راهیسې د امریکا په ۱۷ ایالتونو کې د دغو لاریونونو پرمهال شاوخوا ۱۳۸۳ تنه نیول شوي دي، خو داسې ښکاري چې د توقیف شویو کسانو شمېر به له دې هم زیات وي؛ ځکه چې لاریونونه او تاوترخوالی لاهم روان دی.

د راپورونو له مخې، په ځینو ښارونو کې بیا دغه مظاهرې سوله ییزې دي، خو په ډېریو سیمو کې د لاریونوالو د پولیسو موټرو ته اورونه اچولي او د اخ و ډب په پېښو کې لسګونه کسان ټپیان شوي هم دي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د مینیسوټا ایالت د مینیاپولیس په ښار کې تور پوستی امریکایي جورج فلوید هغه وخت مړ شو چې یو پولیس افسر ډېریک شاووین هغه غورځولی و او پر غاړه یې خپل زنګون ایښی و. په ټولنیزو رسنیو کې په خپرو شویو ویډیوګانو کې ښکاري چې یاد کس پولیسو ته د ساه بندۍ له کبله د ده د خوشي کېدو غوښتنه کوي، خو پولیس یې خبرې ته غوږ نه ږدي او همالته ځای پرځای وژل کېږي.

د دغو راپورونو او ویډیوګانو له خپرېدو وروسته د خلکو توند غبرګونونه راوپارېدل او د پولیسو د دغه تبعیضي چلند په مقابل کې لارو او سړکونو ته راووتل. د رپوټونو له مخې، د دغو لاریونونو په ترځ کې ډېرې هم شوي چې له کبله یې د پولیسو څو تنه منسوبین هم ټپیان شوي دي. پولیسو ویلي چې لږ تر لږه دوه تنه د ډزو په تور نیول شوي دي.

د اسوشیټېډپرېس اژانس د رپوټ له مخې، د امریکا دفاع وزارت د دغه هېواد پوځ ته لارښوونه کړې چې ځانګړي پولیس چمتو او د مینیاپولیس ښار ته یې واستوي؛ هغه ځای چې د پنجشنبې له ورځې راهیسې پکې پراخ لاریونونه روان دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي ګارد ۴۱۰۰ غړي د مینیاپولس او سنت پال ښارونو ته استول شوي او د پولیسو سره د وضعیت په کنترولولو کې مرسته کوي.

په ورته وخت کې مظاهره کوونکي وایي، پولیس افسر د تعصب او نژادي توپیر په اساس جورج فلوېډ وژلی، خو پولیس افسران وایي چې جورج فلوېډ د نیولو پر مهال له پولیسو سره همکاري ونه کړه او مقاومت یې کاوه.

# ملي امنیت شوار: تمه لرو چې د طالب زندانیانو په ازادېدو سره به تاوتریخوالی کم شي

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې بهیر تر بل هر وخت ډېر چټک شوی، د ملي امنیت شورا وایي چې دوی تمه لري چې د طالب زندانیانو په ازادېدو سره به د تاوتریخوالي په کچه کې کموالی راشي.

د معلوماتو له مخې په تېرو دریو ورځو کې د افغانستان د حکومت له زندانونو څخه ۷۱۰ طالبان او طالبانو بیا ۷۳ افغان سرتېري له خپلو زندانونو څخه ازاد کړي دي.

د افغانستان ملي امنیت شورا وایي، دا ګام د ولسمشر محمد اشرف غني د فرمان او تر خوا یې د سولې د روان بهیر د چټکتیا لپاره پورته کوي او په دې سره به د ولسمشر محمد اشرف غني هغه فرمان




عملي شي چې د اختر په ورځېیې د ۲ زره طالب زندانیانو د ازادۍ په اړه صادر کړی و.

د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل تېره ورځ رسنیو ته ویلي، د افغانستان حکومت هیله لري چې دا کار به د طالبانو لهخوا پیل شوی تاوتریخوالی راکم کړي.

هغه زیاته کړې: « هیله مو دا ده چې له دې اقداماتو سره تاوتریخوالی راکم شي، د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې پیل او د امنیتي او دفاعي ځواکونو هغه اسیران چې له طالبانو سره دي، ژر تر ژره ازاد شي.»

که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په اړه د شوې هوکړې یوه برخه کې د افغانستان له زندانونو د ۵ زره طالب بندیانو ازادي ده، خو په دې سره د افغانستان له زندانونو د ازاد شویو طالب بندیانو شمېر ۳ زره تنو رسېږي.

طالبانو هم ورمه ورځ وویل چې په بېلابېلو ولایتونو کې یې د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو ۷۳ تنه له بنده ازاد کړي دي.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین په خپله ټویټرپاڼه لیکلي چې په ټوله کې تر اوسه ۴۲۰ حکومتي بندیان خوشې شوي دي. خو د زندانیانو د تبادلې بهیر چې اصلي موخه یې د بین‌الافغاني خبرو لپاره د باور فضا جوړول او د مخامخ خبرو پیل دی، تر اوسه پر ځای پاتې ده.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، دوی له خپلې خوا د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره اړین ګامونه پورته کړي او اوس د خبرو پیل ته په تمه دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۵۵ |
| € | ۸۳,۵۰ |
| Rp. | ۴۷۲ |
| ₹ | ۹۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۷۰ |
| £ | ۹۱,۵۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د جون لومړۍ | ۵۴۲مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازيگر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٤۲

## نړۍ



د تبعيضي چلن پر وړاندې د لاريونونو دوام؛

## د امریکا دفاع وزارت پوځ ته امر کړی چې د وضعیت د کابو کولو لپاره لاس پر کار شي

۵

## اروپايي ټولنه: امريکا دې له روغتيا نړيوال سازمان سره د اړيکو پر پرې کولو له سره غور وکړي



اروپايي ټولنې له امريکا غوښتي چې د روغتيا له نړيوال سازمان سره د اړيکو د پرې کولو پر پرېکړه له سره غور وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امريکا متحدو ايالتونو د کرونا ويروس د خپرېدو د مخنيوي لپاره د روغتيا د نړيوال سازمان پر فعاليت د سخت انتقاد له کبله ويلي چې له دغه سازمان سره مالي مرستې به په نړۍ کې د نورو روغتيايي ادارو لپاره ځانگړې کړي.
امريکا چې د روغتيا نړيوال سازمان تر ټولو لوی تمويلوونکی هېواد دی، ويلي يې دي چې له دغه سازمان سره يې خپلې اړيکې پرې کړې دي. په ورته وخت کې د اروپا د کمېسيون مشرې او د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشر دواړو په گډه اعلاميه کې ويلي چې د کرونا ويروس پر ضد د مبارزې لپاره د همکاريو زياتېدو ته اړتيا ده؛ ځکه دا خطر ټولې نړۍ ته متوجه دی، خو د روغتيا نړيوال سازمان تر اوسه پر دې مسئلې خبرې نه دي کړې.
د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ بيا بر چين نيوکه کړې چې د ووهان په ښار کې يې د کرونا ويروس د خپرېدو په اړه معلومات تر ډېرې مودې له نړيوالو پټ کړي وو او له دې کبله دا خطرناک ويروس ټولې نړۍ ته خپور شوی دی، خو چين د امريکا دغه ادعا بې بنسټه بولي.

## راپورونه: په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ٦.۲ ميليونو واوښتې

د تازه شمېرو شمېر له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس د مثبتو پېښو شمېر ٦.۲ ميليونه او نهه زره او ځلور سوو ته رسېدلي دي. دغه راز د دې وبا له کبله ۳۷۲ زره او ٦۷ تنه مړه شوي او له ۲.۷۷ ميليونو زيات ښېرته رغېدلي دي. د دغو شمېرو له مخې، د امريکا متحده ايالتونو د دغه ويروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانيانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امريکا کې تر دې مهاله پر ياد ويروس نږدې دوه ميليونه کسان اخته شوي او له دې ډلې يې ۱۰۵ زره او ٦۹۸ تنه مړه شوي دي. له امريکا وروسته برازيل، روسيه، اسپانيا، برېتانيا، ايټاليا، هند، فرانسه، جرمني او ترکيه په ترتيب سره هغه هېوادونه دي چې د دغه ويروس تر ټولو ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.
په ورته وخت کې له يوې خوا د کرونا ويروس پېښې په نړۍ کې په زياتېدو دي، له بلې خوا يو شمېر هېوادونو د دغه ويروس د خپرېدو د مخنيوي لپاره لگولي بنديزونه نرم کړي دي.
د کرونا ويروس د مخنيوي لپاره له څو اونيو سر پر سر بنديزونو وروسته په گڼو هېوادونو کې د بنديزونو نرمولو ته لېوالتيا په زياتېدو ده، خو په کرونا ويروس د اخته کېدونکو کسانو شمېر لا هم مخ پر ډېرېدو دی.

## سازمان عفو بین‌الملل: معافیت در برابر عاملان حمله برخبرنگاران پایان یابد

انفجار ماینی که جان یک خبرنگار و یک کارمند بخش فنی تلویزیون خصوصی خورشید در کابل را گرفت و شش کارمند دیگر این تلویزیون را زخمی ساخت، با واکنش‌های داخلی و بیرونی روبه‌رو شده‌است.
سازمان عفو بین‌الملل این رویداد را «وحشتناک» توصیف کرده‌است و از حکومت افغانستان خواسته تا برای حفظ جان خبرنگاران و کشانیدن عاملان حمله بر خبرنگاران به عدالت، کارهای همه جانبه انجام دهد.
در اعلامیه این سازمان آمده‌است: «حمله بر تلویزیون خورشید، یک جنایت وحشتناک بوده و بیانگر خطرهایی است که خبرنگاران افغانستان برای انجام وظیفه با آن روبه‌رو استند. مقام‌های افغانستان باید برای حفظ خبرنگاران و کشانیدن عاملان به عدالت تلاش کنند. معافیت از مجازات حملات بر خبرنگاران باید پایان یابد.»
سفارت‌های ایالات متحدهٔ امریکا، بریتانیا در کابل و شماری از نهادهای خارجی دیگر نیز حمله بر موتر حامل کارمندان تلویزیون خورشید را نکوهش کرده‌اند. سفارت امریکا در کابل، گفته‌است که حمله بر خبرنگاران، حمله بر آزادی بیان است و سفارت بریتانیا نیز تأکید کرده‌است که پشتیبانی‌اش از خبرنگاران در افغانستان را ادامه می‌دهد. این در حالیست که دو روز پیش در حملهٔ بر موتر حامل کارمندان تلویزیون خورشید دومین حمله است که در دو سال اخیر صورت می‌گیرد. سال گذشته نیز موتر کارمندان این تلویزیون آماج یک انفجار قرار گرفت. مسؤلان تلویریون خورشید با ابراز نگرانی از آماج قرار گرفتن خبرنگاران و کارمندان رسانه‌یی در کشور، می‌گویند که نهادهای امنیتی برای بررسی چنین رویدادها توجه ندارند.

## ژوند


## کينه مو جسمي او رواني روغتيا زيان اړوي




کينه ذهن گډوډوي، هېڅ وخت او په هېڅ ډول شرايطو کې کينه مه کوئ. کينه يوازې ستاسو جسمي او رواني روغتيا ته زيان رسوي. کينه داسې ناروغي ده چې زيان يې يوازې تاسو ته رسېږي او هغه څوک چې تاسو ورسره کينه پالی، کېدای شي خبر هم نه وي. پر دې بايد پوه وی چې د هر چا ژوند د هغوی له برخليک سره سم پر مخ ځي. که کله هم داسې شوي وي چې تاسو پيسې پيدا کړې، نو هېڅوک مو مخه نه شي نيولی او برعکس که مو څه لاسته هم نه وي راوړي، بل څوک درسره مرسته هم نه شي کولای. له ځان سره چې هر څه کوی، پخپله يې کوی، بل څوک بايد ملامت نه کړئ او که يې ملامت هم کړی، پرته له دې چېکينه پخپله تاسو وخوري، بل څه لاسته نه شی راوړلی. ډاډه اوسئ چې کينه مو هېڅ ځای ته هم نه شي رسولی، بې له دې چې ذهني توازن مو له لاسه ورکړئ.

## د بدن د اړتيا وړ کلسيم څنگه پوره کړو؟

هډوکي په ځوانۍ کې قوي وي، خو د وخت په تېرېدو د هډوکو مقاومت راټيټېږي. د هډوکو د مقاومت ټيټوالی په ښځو کې هغه مهال لا ډېرېږي، چې عمر يې لوړ شي. کلسيم د هډوکو د قوي کولو لپاره عنصر دی. هغه کسان چې عمرونه يې تر۵۰ کلونو پورته دي، بايد هره ورځ زر ميلي گرامه شيدې وخوري؛ ځکه شيدې د کلسيم قوي سرچينه ده. مستې هم په غذايي لحاظ د شيدو په څېر دي. که تاسو د شيدو له لکتوز سره حساسيت لری، نو مستې او پنير هغه څه دي چې دغه مواد پکې تر شيدو کم دي. دغه راز له نورو هغو محصولاتو هم استفاده کولای شی چې لکتوز پکې کم وي. يوازې شيدې هم کلسيم نه لري، بلکې هغه کبان




هم چې واړه هډوکي لري، د کلسيم په برخه کې ډېر غني دي او خوړل يې د هډوکو د پياوړتيا لپاره ډېر گټور دي. د دې تر څنگ گڼ نور خواړه او مېوې هم شته چې په خپل ترکيب کې په زياته پيمانه کلسيم لري او د هډوکو له پياوړتيا سره مرسته کوي.

ماستر ډېبټ کارت
د عزيزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداگريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
• د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو گټه اخيستلی شئ.
1515 www.azizibank.af
عزيزي بانک
Azizi Bank